پوهنمل حاجی محمد نوزادی تاریخ ۱۰/۰۹/۲۰۰۹

# لیوه له خدایه څه غواړی ؟ باد اوباران

دماشومتوب له وخته می چی کله ناکله له مشرانو څخه لوړ متل اورویدی , پدی هیڅ نپوهیدم چی لیوه دڅه پخاطر دباد وباران لیوال دی, هغه خو ورنه دپټیدو دپاره ځای هم تلری . یوه ورځ می دمتل داورویدو وروسته دنوموړی مشر نه وپوښتل چی لیوه ته باد او باران څه ګټه رسوی . هغه راته وویل چی لوی شی بیا به یی پخپلو سترګو ووینی اوپری پوه به شی . ورته می وویل چی لیوان خویوازی په غرو او ځنګلونو کی وی , نو زه به یی چیرته ووینم . هغه راته وویل چی دلیوانو دلیدو پخاطر دځنګله تګ ته اړتیا نشته , په کلي او کور کی غټ لیوان پراته دی خوستا سترګی یی لاتراوسه دلیدلو توا ن نلری . ماته هغه وخت داخبره یوه معما ښکاریده . رښتیاهم چی څومره لوئیدلم , په سترګوکی می هم دکورنی لیوانو دلیدو توان زیاتیدی . وروسته می په اسانۍ سره لیدلای شوه چی څومره باد تند او باران زیات وی , چوپان دخپل ځان دژغورلو په کار اخته شی اولیوه ته د رمی تولواکی پلاس ورځی .

تیره ورځ می داریانا په تلویزیون کی جمهوری ریاست ته دیوه نوماند له خولې نه واورویدل چی ویل یی :

درین انتخابات تخلف وسیع صورت گرفته است . دربسیاری از ولایات جنوبی وجنوب شرقی کشور امنیت بسیا رخراب است لذ ا نماینده گان ما درانجا حضور نداشتند . ما از ان مناطق راپور های موثق داریم که درتعداد از اولسوالی ها یا اصلا انتخابات صورت نگرفته ویاهم مردم به تعداد خیلی کم دران اشتراک ورزیده است . اما موظفین مربوطه بمقدارچهار الی پنج مرتبه اوراق رایه دهی را درصندوقها زیادتر انداخته وانهم به نفع یک کاندید مشخص ( چی هدف یی کرزی وو ) . چنین انتخابات برای ما قابل قبول نبوده وماز حق خود دفاع خواهیم کرد.

دخپل حق څخه دفاع کول دهرچا نه یوازی داچی قانونی حق بلکه یوه ټولنیزه دنده ده . که رښتیاهم داسی کار ترسره شوی وی نو دانه یوازی تخلف بلکه یو ځرګند تقلب دی . تخلف دتیروتنی یو شکل دی چی که په قصد سره ترسره شی , وجرم ته اوړی . قصدی تخلف د اصلی لاری نه پرته دټاکلوموخوپخاطر پر کږه لاره تلل دی . تر اثبات وروسته یی باید داصلاح چاری په ګوته شی .تقلب بیاپهرحالت کی جرم دی ځکه چی داکار یوازی په قصدی ډول ترسره کیدلای شی نه دتیروتنی له مخی . دتقلب اجرا کوونکی ته دجزاپه قانون کی ټاکلی جزا په پام کي نیول شوي ده . په انتخاباتو کی تقلب باید دجرم په توګه وڅیړل شی او دجبران په موخه یی حسب الاحوال پریکړی وشی . پدی ډول دتقلب داثبات په صورت کی کیدلای شی د اړوند صندوق ټولی رایی یا دیوه مشخص نوماند پنامه پرتی رایی باطلې اعلان اویاهم په هغه ټاکلې ځای کی دسره نوی تکراری انتخابات ترسره شی .

ددغسی حالاتو څیړل دانتخاباتی شکایتونو دکمیسیون دنده ده . ددی کمیسیون اصلی تصمیم نیونکی ډله پنځه تنه غړی لری چی دری نفره یی خارجیان او دملګرو ملتونو لخوا ټاکل شویدی او پاته دوه کسان یی افغانان چی یو یی دستری محکمی استازې او بل یی دبشر دحقونو ساتونکی ډلې استازیتوب کوی . لدی نه ښکاری چی دکمیسیون اکثریت دملګروملتونو استازیتوب کوی او افغانی برخه دلته یواقلیت جوړوی . پدی ترکیب کی دپریکړو پر وخت ټاکونکی رول خارجان پلاس کی لری نه افغانان . دا چی دانتخاباتو مستقل کمیسیون دنوماندانو لخوا په رسمیت پیژندل کیدی نو یی هغه ته دخپل ځان دکاندیدولو درخواسی ورکړه , همدارنګه دشکایتونو کمیسیون په دغه ترکیب سره دوی ته دمنلو وړ وو نویی ځکه هغه ته خپل شکایتونه وروليږل . دنوماندانو ددی کار مانا داده چی ددغو کمسیونو پریکړی هم باید ورته د درناوی او منلو وړ وی . دانتخاباتو مسقل کمیسیون دټاکنو د ورځی دپاره دهیواد په کچه نژدی ۱٦۰۰۰۰۰ یوسل اوشپیته زره کسان داړوندو سیمو نه استخدام کړی او پکار ګمارلې وو . کیدلای شی په دومره کسانو کی به دهر کاندید مینه وال تیر شوی وی چی دهغوی په ګټه یی ښایی لاس وهنی هم کړی وی . خو دشکایتونو دارویدلو کمیسیون بیا پاخه غړی لری او ترکیب هم دا ډول دی چی وربانذی دګوتی نیولو ځای نه ترسترګو کیږی , ځکه یی نو باید پریکړی هرومرو ومنلی شی . که څه هم تراوسه پوری خو هیچا ددغه کمیسیون دترکیب نه سر ندی ټکولې ولی دښاغلی عبدالله پلویانو دخبرو نه داسی ښکاری چی دوی به دشکایتونو اورېدلو دکمیسیون د بی پری والی په هکله دکمیسیون تر پریکړو وروسته خپل نظر ځرګند کړی . کیدلای شی ددی خبری


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

مانا دا وی چی که یی پریکړی ددوی په ګټه وی نو کمیسیون په رښتینی توګه بی پرې او دموکراتیک دی کنه نو یو ګوډاګی او ګمارل شوی کمیسیون به وی . پرداسی نظر به بیا هیوادوال او نړیوال پخپله قضاوت وکړی.

رابه شو دلیوه قصی ته . داوس دپاره که د نورو کاندیدانو له کړو وړو نه تیرشو , پکارده چی پر ښاغلو کرزی او عبدالله باندی لږ شانتی پښه ونیسو . دوی هریوه دځان کانددولو پر مهال خپلې ژوری محاسبی تر سره اوپایلی یی هم پخپله ګټه تری نه تر لاسه کړی وی . ددغو څیړنو او محاسبو وروسته دوی دانتخاباتو مستقل کمیسیون دفتر ته ولاړل او دخپلی نوماندی درخواستې یی ورکړلی . دښاغلې عبدالله محاسبه داسی وه چی په افغانستان کی دشکیلو هیوادونو مشرانو دم ګړی د کرزی مخالفت ته ملا تړلی او دکور په دننه کی هم دکرزی دبرې پوتنشیال ترلویه بریده دهیواد جنوبی او جنوب ختیزی سیمی دی . پدغو سیمو کی دامهال دجنګ داور لوخړی اسمان ته ختلې , دچاخبره باداو باران خورا زور اخیستی او دلیوه دپار دښکار بازار تود دی . ددغی بدمرغی په پام کی نیولو سره به دنوموړو سیمو په ډیرو ځایونو کی یا اصلاً صندق کښیښودلای نشی اویا که په ځینو ځایونو کی انتخابات ترسره هم شی نوهلته به له یوی خوا ډیر لږ ګډون کوونکی برخه واخلې او له بلی خوا به ددغو لږو کسانو رایی هم دکرزی , اشرف غنی احمدزی , میرویس یاسینی او یوشمیر نورو تر منځ وویشلی شی چی کرزی ته به ډیره سپکه برخه و رسیږی . دعبدالله دمحاسبی سره سم به کرزی دخپل پوتنشیال نه بی برخی , ده ( عبدالله ) ته به میدان چغالی پاته او بی سیاله کاندید به وشمیرل شی . د عبدالله دغه محاسبه که څه هم دموجودو ترخو واقعیتونو پربنسټ په دقیق ډول تر سره شوی وه او بیځایه هم نه وه , خو د ارزونی په خلاف دانتخاباتو په ورځ هلته زیات شمیرل کسانو سر پلاس کي واخیست او تر صندقه یی ځانونه ورسول . که څه هم پدغو سیمو کی اړوندی رایی دښاغلی عبدالله د محاسبی له مخی تر یوی کچی وویشلې شوی خو دده له بده بخته هلته دکرزی پله له هغه څه نه درنه راوخته چی ده دځانه سره ورته ټاکلې وه.

دجنوبی او ختیزو سیمو داغمیزه د کرزې نه هم پټه نه وه پاته اوپرخپل دغه پوتنشیال باندی یی د برې حساب نشو کولای . دی پدی هم ښه پوهیدی چی امریکا او اروپا یی نور نه یوازی داچی ملاتړی ندی بلکه دپښو خاوری یی هم ورنه کاږی . نویی څه یی باید کړی وای ؟ پکار وه چی دهیواد دمشر په مقام کی داسی لاری ولټوی چی هم خپل دبری چانس پری پوخ کړی او هم نړیوالو ودی ته اړباسی چی دده د ملی موقف له مخی باید درناوی ورته وکړی . په همدی هیله یی په محاسبو لاس پوری کړ او دسطرنج ویوی پیچلي لوبی ته کښیناست . د دوستم او محقق په خپلولو سره یی متحدی جبهی ته کشت ورکړ . دفهیم خان په وړاندی کولو یی دشورای نظار نه وزیر واخیست او پای کی یی د اسماعیل خان په ورمخته کولو سره دجمعیت اسلامی رخ په پیاده مات کړ .

دافغانستان ناوړ حالت , نظامی او سیاسی کړکیچونو امریکا او لودیز سرګیچ کړیدی . ددغه څپڅپانده هیواد مشرتابه ته ددوی دملاتړ وړ څوک پیداکیدل ورته یوه بله ستونزه وګرځیده . ددوی په وړاندی له ټاکلی کچی نه زیاته دکرزی سرکښی او په کورنی سیاست کی له ټاکلې کچی نه دده زیات نرموالی داهغه څه دی چی پرکرزی باندی یی نور نو باور کول سخت شواو ورسره سم یی دملاتړ نه لا س واخیست . ددی سره سره چی ډاکتر عبدالله ددوی دملاتړ ترلاسه کولو پخاطر دوی ته دخپل صداقت دځرګندونی په موخه زیاتی هلې ځلې وکړی او دوی هم دکرزی په مقابل کی پرشا وټکاوه , خو پدی خاطر چی هغه د دیوی خوا د اوبایمو کلونو د ناورین په چور اوچپاول کی پوره ونډه درلوده او دجنګسالارانو دمشرتابه ډلی وتلی غړیٰ وو او دبلی خوا نه د روسیی او ایران سره دیوه تړلی سیاستوال په توګه پیژندل شویدی نوپوره باور وربااندی اسانه کار نه وو . په پاتو کاندیدانو کی که د دوی دپوره باور و ړ څوک هم وی , هغوی په ټولټاکنو کی د اړتیا په کچه دخلګو باور ترلاسه نه کړای شو .

دکرزی دی چل په افغانستان کی دمیشتو نړیوالو نه لاره ورکه اودوی یی دی ته اړایستل چی دوه ګونی لوبه پیل کړی . دوی دکرزی دپلان په ډاګه کیدو سره سم دجنګسالارانو او دبشر دحقوقو پرضد دجنایتکار ا نو هغه دوسیی چی تر اوسه پوری یی پخپله شاته غورځولې وی , یواربیا راپورته کړی . ددی کار ښکاره موخی دنړیوا لی ټولنی په وړاندی د کرزی لانور بی اعتباره کول او د پښتنی قومونو ترمنځ دده په اړه بی باوریٰ ته لمن وهل دی . له بل پلوه داچی دکرزی تریخی لوبی وروسته دهغه دماتی امکان سست ښکاره شو نویی په زغرده تخریبول هم دامریکا او لودیز په ګټه و نه لیدل . دلوړو لاملونو په پام کی نیولو سره دوی په ټولټاکنو کی د خپل بی پرې والی ناری پیل کړی او په خپلو څرګندونو کی داسی ښودل چی دهیڅ یوه ټاکلی کاندید شاته نه دریږو بلکه دخلګو د ارادی او رایو درناویٰ به وکړو .

لوړی ستونزی ددی لامل شوی چی امریکا او لودیز په ټولټاکنو کی دیوی څرګندی او سپینی اجندا نه لاس په سر او یو اپرچونیستی موقف خپل کړی . دوی داسي دوه مخی سیاست ته لاس واچاوه چی دهری ورځی دحالاتوسره سم بدلون ورکوی . د بیلګی په توګه به امریکا راواخلو . دانتخاباتو د ورځی په ماښام ښاغلی اوباما نوموړی انتخابات په



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ښکاره ډول بریالي او یوه لویه لاسته راوړنه وګڼل . دوی ورځی وروسته چی د درغلیو خبری راپورته شوی د اوباما استازی ښاغلي هالبروک بیله دی چی پایلو ته انتظار وباسی , هغه یی ناکام وګڼل و وړاندیز یی وکړ چی یا دی دسره انتخابات ترسره اویا دی پریوه ائتلافی حکومت باندی جوړجاړی وشی . دانتخاباتو کمیسیون د هغو صندقونو چی په هکله یی شکایتونه موجود نه وو , د رایو په شمیرلو او دمقدماتی پایلو په تدریجی اعلانولو لاس پوری کړ . کله چی یوازی په سپینو رایو کی د کرزی دګټلو چانس یقینی غوندی شو نو همدغه دامریکا استازی تیره ورځ خپلو څرګندونوته بدلون ورکړ او ویي ښودل چی ګویا په انتخاباتو کی تر یوی کچی پوری لاسوهنی نه یوازی په افغانستان غوندی هیوادونو , بلکه ان په امریکا کی هم ترسترګو کیږی . دده ددی خبری مانا داده چی دا تیروتنی اودرغلی په دومره پیمانه ندی چی پایلی دی اغیزمنی کړای شی ځکه نو دپایلو منل او درناوی پکار دی . ښاغلی عبدالله او پلویانو یی درایوشمیرنی د پایلو د تدریجی او ټوټه ټوټه اعلانولو سره پدی خاطر مخالفت ته ملا وتړل چی دابه ښایی هیوادوالو او نړیوالو ته وښئی چی کرزی په هغو سپینو رایو کی هم وړاندی دی چی نوماندان یی په هکله شکایت نلری . که چیری دټولو رایو دشمیرلو وروسته اخیرنی نتیجی یوځل اعلان شی ، بیانو دکرزی مخالفان کولای شی چی سپینی او توری رایی سره ګډوډی وښئي , دنړیوالو او هیوادوالو ذهنیتونه مغشوش , لجاجت او لچریو ته پښی لوڅی کړی .

پدی لوبه کی دکرزی دپاره مثبت او منفی اړخونه دواړه ترسترګو کیږی . مثبت اړخونه یی دده دګټلو دچانس پوخوالی , دملی یووالي دامیدونو مړژواندو ریښوته یوار بیا اوبه ورکول او دتنګ نظرو ایرانی افغانستانیانو دناروا پروپاګندو بی اغیزه کول دی . منفی اړخونه یی بیا دادی چی دتوپکمارانو په رګونو کی یی یوار بیا وینه په خوځښت راوستل , دخپلو نړیوالو مخالفانو تبرته یی لاستی ورکړ او دطالبانوسره یی د روغی جوړی کمزوری امکان لانورهم سست کړ.

دائتلافی حکومت په اړه هم غواړم څو ټکی یادی کړم. ښاغلی عبدالله او نور نوماندان چی مسلکی زده کړی او دکار تجربی  لری , دوی ددغه هیواد وګړی او دایی مکلفیت دی چی دخپل توان سره سم وطن ته خدمت وکړی . دولت چی مشر یی هرڅوک هم وی , دا دنده لری چی دوی ته دهغوی دمسلکی پوهی سره برابر ابرومندانه مناسب کار ورکړی . که دائتلافی حکومت نه موخه داسی ائتلاف وی داویایمو کلنو په پیل کی دتنظیمونوترمنځ په اسلام اباد کی وشو او دبن په کنفرانس کی منځته راغي , دا ائتلافونو ناوړه پایلی درلودلي او ازموده را ازمودن خطاست . نوماندان باید پدی پوه وی چی هر انتخابات یو تن ګټونکی او څو تنه بایلونکی درلودلای شی . که د دوی سره داسی نظر موجود وی چی زه خوبیله هغه پریمانه پیسی او سوکال ژوند لرم نو یا باید دهیواد جمهور رئیس شم او یا په داخل یا خارج کی ارام کښینم , وطن پوه شه او ستونزی یی . زما په اند دا نظر د وطن سره جفا او ان خیانت دی چی هیله ده زموږ نوماندان به داسی ونکړی

.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de